## د خوشال کرکه له خټکو

لیکنه : ضیاء الحق سیند

خوشال خان خټک د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی ، چې په ۱۰۲۲ س ل کال په اکوړه خټک کې د دې دنیا ته سترګې پرانستې دي ، څنګه چې د نومړي د نوم له روستاړي څخه هم څرګندېږي ،چې په قوم خټک دی او خټک د پښتنو یوه ستره توریالۍ قبیله ده ، خو خوشال خټک ځای ځای په خپل دېوان کې د خټکو له نامې سره کرکه ښودلې ده ، ما خپله د خوشال خټک دېوان بیا بیا لوستی دی ، نومړی د ټولو پښتنو نه ګیله من ښکاري خو په ځانګړي ډول د خټکو او یوسفزیو نوم بیا بیا په بدو ټکو را اخلي ، هغه ځکه چې یادو نه د هغه چا کېږي ، چې هغه یو څوک وي ، خټک له نومړي یو ځای خورا زیات اوسیدل او خورا ځواک خاوندان ول ،خو هغه وخت د لنډې د سیند د غاړې خټک د اکوړه خټک د سرای اوسیدونکي په دوه ډلو وېشل شوي وو ، څه د خوشال تر شا او څه نور هم د مغلو د نوکر د خوشال خټک د زوی بهرام خان تر شا ولاړ وو ، نو خوشال خان د مجبورۍ له امله خټک په بد نوم یادول ، ان تر دې چې د خپل ځان نه یې په دې کرکه په دې راغلې ،چې دی هم خټک دی او په دې اړه وایي:

د خټکــو حقیقت را ته ښــکاره شــو
زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک یم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

او بل ځای د خټکو له نوم څخه انکار کوي ، او له ټولو خټکو څخه نا خوښه ښکاري او توبه ګار دی

د خټکو نامې هومره زړه نه خوښ دی
چې تــوبه د همــګي خټک له نامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

Ketabton.com

د خوشال خان کورنۍ پلار تر پلاره د خټکو خانان او مشران پاتې شوي وو ، خو کله چې خوشال د مغلو خلاف شو ، نو هغه خاني ملکي هر څه تري پاتې شول ، د افغان په نامه یې توره تر ملا کړه او پښتنه مېرانه او ننګ یې مله وو ، خوشال خان په خپل قوم د هیڅ ډول مرستې سپمی نه و کړی ، نو ځکه تري ګیله من ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نعمت په قــدر هیڅ خـــبردار نه دي

نوم ختک به مې خلاص نه وي له انعامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

بل ځای بیا نومورې د ختکو په لیکه کې د پښتنو دوه نوردرانه او ستر قومونه (بنګښ او ورکزي) هم ورګډوي او د دې درې واړو په کورونو یو ځای د ماتمونو غوښتنه کوي.

که ختک دی که بنګښ که ورکزی دی

وار په وار یې په کــور وشه ماتــمونه

(دېوان، ۵۵۵مخ)

بل ځای بیا یوسفزي تر سپیوو بدتر ګڼي، هغه داسې چې یو ځل ختک تر سپو بېکاره بڼیي او د ختکو سپي تر یوسفزیو بهتر ګڼي، او وایي:

د ختکـــو سپي بهتـــر تر یوسفـــزیو

که ختک دی هم په خوی تر سپي بېکاره

(دېوان، ۵۵۵مخ)

او په اخره کې وایي :

که ختکو راته شا کــړه مخ یې تور شه

زه یوازې په تکیه د خدای شیرک یم

(دېوان، ۵۷۹مخ)

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه : د پښتنو ټول قومونه په ننګ ، پت ، مینه او ښېرازۍ کې یو له بله کم نه دي او هر یو ځان ځان ته ځانګړی مقام لري ، دا د خوشال خان خټک د خولې خبرې دي ، زما نه دي ، کېدای شي ،چې د نورو ټولو قومونو د بد او بد ترې راغلي وي دا د هغه خپل کار دی ، خو زه په خپله ټول قومونه په یوه سترګه ګورم، هیله مند یم، چې څوک له ما څخه نا خوښه شوي نه وي.

په درنښت

ستاسو ورور : ضیاءالحق سیند

پته: بغلان ولایت ، پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري زرغونه سیمه

۱۳/ ۱۱/ ۱۳۹۴

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library